https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864

# د کډوالۍ د وضعیت په اساس د نویو راغلو افغانانو سره د هغوی د کورنیو بیا یوځای کیدل

### دا جدول باید څنګه وکارول شي؟

پدی جدول کې اړوند معلومات وکاروئ ترڅو د خپلې کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو لپاره، د موجوده انتخابونو په اړه لنډیز ترلاسه کړئ:

- خپل د کډوالۍ اړوند وضعیت پیدا کړئ
- وګورئ چې د کورنۍ د کوم غړي لپاره غوښتنلیک سپارلی شئ
- د اړوندې پروسې د بهیر لنډیز ولولئ

دا جدول عمومي معلومات وړاندې کوي. ټول هغه معلومات چې تاسې ورته اړتیا لرئ، دلته ندي شامل شوي. مهرباني وکړئ د خپل وکیل سره سلا-مشوره وکړئ.

د کډوالۍ د وضعیت په اساس د کورنۍ سره بیا یوځای کېدل

| ستاسي وضعیت | د کورنۍ غړي | پروسه | فیس ؟ | یادوني |
|---|---|---|---|---|
| قانوني دايمي اوسیدونکی (lawful Permanent Resident-LPR) | • خاوند- میرمن<br>• نا واده شوي (مجرد) اولادونه | • کورنۍ غړو د غوښتنې لپاره د I-130 فورمه وکاروئ.<br>• که غوښتنه مو ومنل شوه، د متحده ایالاتو حکومت به ستاسو د کورنۍ د غړو سره اړیکه ونیسی چې د ویزې لپاره خپل غوښتنلیک وسپاري.<br>• د ویزې شتون د کورنۍ د غړو په کټګوریو پورې اړه لري. | هو* | • اړتیا ده چې د I-864 (د مالی ملاتړ د لوظنامی) فورمه ډکه کړي تر څو دا په ډاګه کړي چې یاد کس مالی امکانات لري او یا بل همکار مالی ملاتړ پیدا کړي<br>• د کورنۍ د غړیو د ویزې کټګورۍ په بنسټ به په خپل کوربه او یا خوندي دریم هیواد کې د قونسلي پروسې څخه تیریږي. |
| هغوي چې د ځانګړي د کډوالۍ ویزې (SIV) په بنسټ قانوني اوسیدونکی شوی وي | • میرمن/خاوند -که اړیکه یې د قانونی دایمی هستوګنی ترلاسه کولو څخه مخکی شتون ولري.<br>• ناواده شوي اولادونه چې لا ۲۱ کلن نه وي او د میرمنی/خاوند سره یې اړیکی د قانونی دایمی هستوګنی ترلاسه کولو څخه مخکی شتون ولري. | • که اصلی غوښتونکی په متحده ایالاتو کی خپل مهاجرتی وضعیت د ځانګړي د کډوالۍ ویزې حالت ته بدل کړی وي، په هغه صورت کی د I-824 (منل شوي غوښتنلیک د عملی کیدو ) فورمه وکاروئ.<br>• که غوښتنلیک ومنل شو، د متحده ایالاتو حکومت به ستاسو د کورنۍ غړو سره اړیکه ونیسی چې د ویزې لپاره غوښتنلیک وسپاري تر څو د اصلی غوښتونکی سره په متحده ایالاتو کې یوځای شي. | نه | • که کورنۍ اړیکه د قانونی دایمی هستوګنی د وضعیت د ترلاسه کولو څخه وروسته پیل شوي وي، تاسو باید د I-130 فورمه وکاروئ (د کورنۍ د غړو ترمنځ د غوره توب کټګورۍ پلی کیږي).<br>• که اصلی غوښتونکی د ځانګړي د کډوالۍ ویزې (SIV ) په بنسټ راغلی وي، د کورنۍ غړي د اصلی غوښتونکی سره په متحده ایالاتو کې د I-824 فورمې سپارلو پرته یوځای کیږي. |
| پناه غوښتونکی/کډوال یا هغوي چې د پناه غوښتني یا کډوالۍ په بنسټ قانوني اوسیدونکی شوی وي | • په هغه صورت کی چې د میرمنی/خاوند سره واده متحده ایالاتو ته د پناه غوښتونکی په توګه د داخلیدو یا په متحده ایالاتو کی د پناه غوښتنی د منلو څخه مخکی شوی وي<br>• هغه ناواده شوي اولادونه چې د اصلی غوښتونکی د پناه غوښتونکی د غوښتنلیک تر سپارلو او یا د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ خدماتو اداري (USCIS) سره د لومړئ مرکی د ورځی پورې د ۲۱ کلنۍ عمر نه وي بشپړ کړی | • اصلی پناه غوښتونکی یا کډوال د خپل وضعیت د ترلاسه کولو څخه وروسته، د دوو کلونو په جریان کی، باید د کورنۍ د غړو لپاره د I-730 فورمه وسپاري.<br>• که د I-730 فورمه/غوښتنه ومنل شی، د متحده ایالاتو حکومت به ستاسو د کورنۍ د غړو سره د مرکی لپاره اړیکه ونیسی. | نه | • تاسو باید د پناه غوښتنی یا کډوال په توګه، متحده ایالاتو ته د داخلیدو د ورځی، او یا د پناه اخیستنی وروسته د دوه کلونو په موده کی د I-730 فورمی غوښتنه وسپارئ.<br>• د دوو کلونو نیټه کیدای شی د بشرپالنی د دلایلو له امله، وضعیت ته په کتو، د USCIS لخوا وبخښل شی. تاسو اړ یاست چې د بخښنې ترلاسه کولو لپاره خپل توضیحات وړاندې کړئ چې ولی مو د I-730 فورمه د دوه کلونو په موده کې نه وه سپارلی . |

| ستاسي وضعیت | د کورنۍ غړي | پروسه | فیس ؟ | یادوني |
|---|---|---|---|---|
| پناه غوښتونکی، کډوال، د ځانګړي د کډوالۍ ویزې (SIV) لرونکی یا هغوي چې د پناه غوښتنې، کډوالۍ او یا د ځانګړې کډوالۍ ویزې په بنسټ قانوني اوسیدونکي شوی وي | • مور او پلار، میرمن/خاوند، ناواده شوي اولادونه چې ۲۱ کلن شوی نه وي<br>• د کورنۍ غړي باید د کډوالۍ شرایط پوره کړي. | • د بیا میشتیدنې (ریسټلمنټ) اداري څخه په مرستې غوښتلو، د پنځو کلونو په موده کې د DS-7656 (د اړیکې د تثبیت لوظنامې) فورمه وسپارۍ.<br>• دغه پروسه د متحده ایالاتو د کډوالو د منلو پروګرام (USRAP) له لارې دوام لري. | نه | • کورنۍ غړي باید د افغانستان څخه بهر وي.<br>• په شرایطو برابر د کورنۍ غړي کولای شي خپل غوښتنلیک کې خپل میرمن/خاوند او ماشومان هم شامل کړي.<br>• د کورنۍ اړیکې د ثابتولو لپاره ممکن د DNA ازموینه اړینه وي. |
| هغه اشخاص چې اوس یا پخوا متحده ایالاتو کې د پرول وضعیت ورکړل شوی وی | • میرمن/خاوند<br>• ناواده شوي اولادونه چې د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۴مې څخه مخکې لا ۲۱ کلنۍ عمر نه وي بشپړ کړی | • د DS-4317 (د پرول وضعیت لرونکو افغانانو سره د کورنۍ د نږدې غړو د بیا یوځای کیدو) فورمه وکاروئ<br>• که د متحده ایالاتو حکومت ستاسو د کورنۍ د غړو سره د افغانستان څخه په وتلو کې مرسته وکولای شي، ستاسو د کورنۍ غړي به یو بل هیواد ته سفر وکړي چیرې چې هغوي د کډوالۍ یا پرول لپاره وړ کسان وګڼل شي. | نه | • په ګټورو او اړینو اسنادو کې ستاسو د کار د جواز سند (EAD)، د زیږون یا نکاح خط، تذکره او پاسپورټ شامل دي.<br>• دا برنامه یوازې د هغو اشخاصو لپاره ده چې د ( د متحدینو د ښه راغلاست عملیات (OAW)) پروسې له لارې یې موقته پناه ترلاسه کړې وي. |
| هغه افغان ماشومان چې د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۴مې وروسته متحده ایالاتو ته راغلي او لا یې د ۱۸ کلنۍ عمر نه وو بشپړ کړی | • مور او پلار یا قانونی سرپرست<br>• ناواده شوي ورونه او خویندې چې د ۲۰۲۱ کال د اګست ۱۴مې پورې لا د ۲۱ کلنۍ عمر نه وي بشپړ کړی | • د DS-4317 فورمه وکاروئ<br>• که د متحده ایالاتو حکومت ستاسو د کورنۍ د غړو سره د افغانستان څخه په وتلو کې مرسته وکولای شي، ستاسو د کورنۍ غړي به یو بل هیواد ته سفر وکړي چیرې چې هغوي د کډوالۍ یا پرول لپاره وړ کسان وګڼل شي. | نه | • په ګټورو او اړینو اسنادو کې ستاسو د کار د جواز سند (EAD)، د زیږون یا نکاح خط، تذکره او پاسپورټ شامل دي.<br>• دا برنامه یوازې د هغو اشخاصو لپاره ده چې د متحدینو د ښه راغلاست عملیات (OAW) پروسې له لارې یې موقته پناه ترلاسه کړې وي. |
| د متحده ایالاتو تبعه | • میرمن/خاوند<br>• ماشومان<br>• والدین<br>• وروڼه او خویندې<br>• کوژدن (نامزاد) او د هغوې اولادونه | • د I-130 فورمه وکاروئ.<br>• که ستاسې غوښتنلیک ومنل شي، د متحده ایالاتو حکومت به ستاسو د کورنۍ د غړو سره اړیکه ونیسي تر څو د ویزې لپاره خپل غوښتنلیک وسپاري.<br>• د کورنۍ د نورو غړو (لکه لمسیانو) لپاره د ویزې شتون د هغوی غوره والي د کټګوریو پورې اړه لري.<br>• د کوژدن شوي (شوی) لپاره، د I-129F (د بهرني کوژدن شوي غوښتنلیک) فورمه وکاروئ. | هو* | • د I-864 فورمې ته اړتیا لرئ.<br>• که د کورنۍ غړی (چې په شرایطو برابر وي) واردمخه په متحده ایالاتو کې وي، د دایمی هستوګنې د نوم لیکنې یا د حقوقي وضعیت د سمولو غوښتنلیک (I-485 فورمې) څخه کار واخلئ. پدې حالت کې ویزه په سمدلاسه توګه ورکول کیږي .<br>• د کورنۍ د غړو د غوره توب د کټګورۍ په بنسټ ویزې به ستاسې په کوربه هیواد او یا یو بل دریمګړي خوندي هیواد کې د قنسلي پروسې څخه تیریږي.<br>• د ایلسا — (ILSAA) اداره د د امریکایي اتباعو ته حقوقي خدمات نه وړاندې کوي. د مرستې لپاره د خپل د کډوالۍ وکیل سره وګورئ. |

*د فیس بخښنه یا استثناء ممکن شتون ولري. پدې اړه، د خپل وکیل سره وګورئ.

پدې سند کې ذکر شوي منابع:

- په بهر کې د کورنۍ د غړو لپاره غوښتنلیک ,Form I-130 (USCIS)
- په بهر کې د کوژدن (نامزاد ) لپاره غوښتنلیک Form I-129F (USCIS)
- د ملاتړ د لوظنامې لپاره فورمه Form I-864 (USCIS)
- د دايمي هستوګنې د نوم لیکنې یا د حقوقي وضعیت دبدلون لپاره غوښتنلیک Form I-485 (USCIS)
- د پناه غوښتونکي /کډوال د کورنۍ غړي لپاره غوښتلیک Form I-730 (USCIS)
- د منل شوي غوښتنلیک د عملی کیدو لپاره فورمه Form I-824 (USCIS)
- د پرول وضعیت لرونکو افغانانو د کورنۍ نږدې غړو سره د بیا یوځای کیدو د مرستې لپاره فورمه Form DS-4317 (U.S. State Department) ,
- د کورنۍ د غړو او نږدې خپلوانو ته دايمي هستوګنې (ګرین کارټ ) ترلاسه کولو لپاره فورمه Green Card for Family Preference Immigrants (USCIS)
- د امریکا د کډوالو د منلو پروګرام U.S. Refugee Admissions Program (د امریکا د بهرنیو چارو وزارت )

## اضافي معلومات

- د نويو راغلو افغانانو لپاره د کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو په اړه معلومات Family Reunification Information for Afghan Arrivals (ILSAA)
- د نويو راغلو افغانانو لپاره د کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو د مرستې په اړه معلومات Providing Family Reunification Assistance to Afghan Arrivals (ILSAA)
- د افغانانو لپاره د کورنيو سره د بیا یوځای کیدو په اړه Family Reunification for Afghans (د امریکا د بهرنیو چارو وزارت )
- د DS-4317 فورمې په اړه د پرله پسې پوښتل شوې پوښتنې (#AfghanEvac) DS-4317 Frequently Asked Questions
- د امریکایي اتباعو او د قانوني دايمي هستوګنو ( ګرین کارت لرونکو ) د کورنیو د کډوالۍ لپاره (USAHello) Family Immigration for U.S. Citizens and Green Card Holders
- د کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو په اړه Family Reunification (Project ANAR)
- د افغانانو لپاره د کورنیو سره د بیا یوځای کیدو د انتخابونو په اړه د پرله پسې پوښتل شوو پوښتنو په اړه Frequently Asked Questions: Family Reunification Options for Afghans (Catholic Legal Immigration Network)

د دې سرچینې مطالب یوازې د مالوماتي موخو لپاره چمتو شوئ او باید په هیڅ ډول د حقوقي مشورې په توګه ونه کارول شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمیټه (USCRI) مالي سرچینې د آزادۍ سیالۍ له لارې د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس ترلاسه کړئ دی. د نويو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدماتو پروژه ایلسا — (ILSAA) سل سلنه (۱۰۰٪) د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.